## الدرس الخامس
## معنى كلمة التوحيد : لا اله الا الله

## پنځم درس
## د كلمة التوحيد معنى او مقصد

لا اله الا الله : داد دين بنياد دى، په دين اسلام کښې ددى اُوچت مقام دى ، دا اول رکن دى، د ارکانو داسلام نه ، او اوچته ځانګه ده د څانګو د ايمان نه ، تر هغې عملونه نه قبليږى تر څو چې پدى کلمه اقرار ونه کړيشى ، او په معنى ئې ځان پوهه نه کړيشى ، او ددى د تقاضي مطابق عمل ونکړيشي، د توحيد د کلمي صحيح معنى اختيارولو نه علاوه خلاصى نشته چې هغه داده (لا معبود حق الا الله) د الله پاک نه علاوه هيڅ معبود (حقدار د عبادت) په حقه نشته، دا معنى تقاضاکوى چې د يو الله تعالى عبادت به کولى شي او د غيرالله هر قسم عبادت به پريښودلى شي ، او ددي داسي معنى کول ښکاره خطائې ده چي د الله نه علاوه بل خالق نشته دي ، د الله نه علاوه بل په موجودولو باندي قادر نشته دي ، يا دالله نه علاوه بل حقيقى موجود نشته دي ، پدي معنو کښې توحيد ربوبيت خو شته ليکن توحيد اُلوهيت پکښې نشته ، او ددي کلمي اصل خو توحيد اُلوهيت دي.

د توحيد د کلمي ار کان : ددي کلمى دوه رکنه دى، (١) نفى: (لا اله)، دا کلمه د هر څيز نه د اُلوهيت نفى کوى ، يعني هيڅ (حق) معبود نشته.

(٢) اثبات: (الا الله)، دا کلمه د يو الله تعالي اُلوهيت (معبود کيدل) ثابتوى ، ځکه چي د الله پاک نه علاوه د بل چا بندګى ونکړى شى ، او نه د بندګى څه حصه د غيرالله دپاره وکړى شى، چاچې پدى کلمه اقرار وکړو، او ددى په معنى ئې ځان پوهه کړو، او ددى په تقاضا ئې عمل وکړو چې د شرک نفى کول او دتوحيد ثابتوى ، ددى د تقاضا مطابق د مضبوط يقين سره ئے عمل وکړو دا رشتينى مسلمان دى، او چاچې په دى کلمه عمل وکړو بغير د عقيدى او يقين نه ، نو دا منافق دى، او چاچې ددى په خلاف عمل وکړو يعني شرک ئې وکړو، نو دا مشرک او کافر دى اګر که په ژبه باندى د توحيدکلمه وائي.

### د کلمه توحيد (لااله الا الله)فضيلت :

دتوحيد د کلمى ډيرفضائل او فوائد راغلى دى، بعض دهغى نه دادى :

(١) مواحد انسان چې د ګناهونو د وجې نه د جهنم مستحق شوى وى ، کلمه د توحيد دهغه او دجهنم مينځ کښې د هميشوالى نه مانع جوړيږى، نبي اکرم صلى الله عليه واله وسلم فرمايلي دى، ترجمه : د اُور نه به راوځى چاچې لا اله الا الله ووئيلي وى او د هغه په زړه کښې ئې دوربشي د دانئ په اندازه خير(ايمان) وى، او داُور نه به راوځى چاچې لااله الاالله ووئيلى وى او د هغه په زړه کښې دغنم ددانئ په اندازه خير(ايمان) وى ، او داُور نه به راوځى چاچې لا اله الا الله ووئيلى وى او د هغه په زړه کښې د يوى ذرى په اندازه خير (ايمان)وى.

(٢) انسانان او پيرياند توحيدپه خاطر پيدا شوى دى، الله پاک فرمائى ، ترجمه : ما ندى پيداء کړى پيريان اوانسانان مګر ددى دپاره چې زما بندګى وکړى، د يَعبدون معنى ده ، يُوَحِدون يعنى زما توحيد ومنى ، او ما په بندګئ سره يوازي کړي.

(٣) د کلمه توحيد دپاره الله پاک رسولان راليږلى دى ، او کتابونه ئې نازل کړي دي، اللهِ پاک فرمائى : ترجمه: او ندى ليږلى مونږمخکښې ستانه هيڅ يو رسول مګر وحى کوله مونږ هغه ته چې يقيناً نشته حقدار د بندګئ سيواءزمانه پس ماله بندګى خاص کړئ.

(٤) دټولو رسولانو دعوت ددى کلمئ نه شروع شويدى، درسولانو اول دعوت هم دا کلمه ده ، هر يو رسول به خپل قوم ته وئيل ترجمه: اے زما قومه ! بندګى خاص کړئ الله پاک لره ، نشته تاسو لره څوک معبود سيواء د هغه نه.